مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید

۲۰۲۶/۱۱/۱۹

د سوداګریزو لارو تنوع؛ د خپلواکي پیاوړتیا

او د افغانستان جغرافیایي انحصار ماتول

د پاکستان له لوري د افغانستان په وړاندي د سیاسي او اقتصادي نفوذ پراخولو په موخه، د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د دروازو تکراري تړل، د افغان ترانزیټ او سوداګري په وړاندي د محدودیتونو او لوړو مالیاتي لګښتونو وضع کول، د سوداګریزو توکو ځنډول، د وارداتو او صادراتو پر وړاندې خنډونه رامنځته کول، افغانستان ته د اقتصادي زیان اړولو ترڅنګ ددغه هېواد په سوداګریزو او سیاسي انتخابونو د فشار وسیله ګرزېدلې وه. د دغو تجربو تکرار ځرګنده کړه چې د یوه ګاونډي هېواد په ترانزیټي لارو باندې زیاته تکیه د افغانستان اقتصادي امنیت او سوداګریز ثبات له جدي خطر سره مخ کوي. له همدې امله، د بدیلو ترانزیټي لارو د موندلو، پراختیا او فعالولو لپاره د افغان حکومتونو او خصوصي سکتور اوږدمهاله هڅې مهم پرمختګ او پر ځای انتخاب دی. افغانستان حق لري چې د خپل جغرافیایي موقعیت له محدودیتونو څخه د وتلو، له سیمه‌ییزو او نړیوالو بازارونو سره د اړیکو د پراختیا لپاره له ټولو شته امکاناتو څخه ګټه واخلي.

د دغو هڅو اهمیت یوازې د پاکستان د ترانزیټي لارو لپاره د بدیل موندلو په معنا نه دی، بلکې د افغانستان د جغرافیایي موقعیت په اقتصادي او ستراتیژیک ارزښت کې د نوي بدلون ځرګندونه کوي. افغانستان د منځنۍ اسیا، جنوبي اسیا، لوېدیځې اسیا او چین ترمنځ پروت هیواد دی او د دغو سیمو د اقتصادونو د نښلولو لپاره ځانګړی جغرافیایي ظرفیت لري. د سیمه‌ییزې سوداګري، انرژي، ټرانسپورټ او اقتصادي همکاریو په پراختیا سره دغه هېواد کولای شي په وچه کې د ایسار او د ترانزیټ په برخه کې په نورو هیوادونو باندې له متکي هېواد څخه د سیمه‌ییز اتصال په مهم مرکز بدل شي. که د رېل‌پټلیو، لویو لارو او سوداګریزو دهلیزونو پراختیا له ښه مدیریت، اغېزمنو سیمه‌ییزو هوکړو او عملي همکاریو سره مل شي، افغانستان به نه یوازې د نورو هېوادونو بندرونو ته د لاسرسي امکانات برابر کړي، بلکې د سیمې د بازارونو، صنعتي مرکزونو او سمندري بندرونو ترمنځ به د نښلوونکي دهلیز په توګه هم مهم رول ولوبوي. په دغه ډول چاپېریال کې د افغانستان ثبات او اقتصادي پرمختګ د خپلو ملي ګټو ترڅنګ د سیمې د ګټو هېوادونو له سوداګریزو او اقتصادي ګټو سره هم مستقیم ټراو پیدا کولای شي.

د بدیلو ترانزیټي او سوداګریزو لارو یوه مهمه ستراتیژیکه ګټه د افغانستان د جغرافیایي انحصار ماتول دي. کله چې یو هېواد د بل هېواد د وارداتو او صادراتو لپاره یوازینۍ عملي دروازه وي، د ځواک نابرابري رامنځته کېږي او ترانزیټي اسانتیاوې د سیاسي فشار په وسیله بدلېږي. د لارو تړل، د توکو ځنډول، د تعرفو لوړول او نور محدودیتونه په داسې شرایطو کې له عادي اقتصادي وضعیت څخه وزي او د نفوذ د اعمالولو وسیله ګرزي. خو د بدیلو مسیرونو شتون دا امکان محدودوي چې د یوه هېواد سیاسي پرېکړې د بل هېواد ټول سوداګریز فعالیتونه اغېزمن کړي. په دغه ډول، افغانستان د خپلو اقتصادي تعاملاتو په برخه کې د انتخاب او معاملې پراخ ظرفیت ترلاسه کوي او د بهرنیو فشارونو پر وړاندې یې د مقاومت وړتیا لوړېږي.

د ترانزیټي لارو تنوع د افغانستان د خصوصي سکتور لپاره هم د اقتصادي فعالیتونو نوی چاپېریال رامنځته کوي. د بېلابېلو لارو شتون سوداګرو ته فرصت ورکوي چې د لېږد لګښتونه، وخت، امنیت او د بازارونو غوښتنې سره پرتله کړي او د خپلو ګټو له مخې مناسب انتخاب وکړي. دغه امکانات د سیمه‌ییزو ترانزیټي چوپړتیاوو ترمنځ سالمه سیالي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پياوړي کوي او سوداګر په يوه لاره باندي له مطلقې تکيې څخه باسي. د ترانزيټي زيربناوو پراختيا، د ګمرکي او بانکي سيستمونو اصلاح، د سوداګريزو اسنادو او اداري پروسو ساده کول، د لېږد رالېږد امنيت، د اوږدمهالو سيمه‌ييزو هوکړو عملي کول او د پانګونې لپاره د ډاډمن چاپېريال رامنځته کول اړين دي. همدغه شان د کورني توليد، صادراتو او صنعتي پروسس پياوړتيا بايد د دغې تګلارې اساسي برخه وي؛ هغه ځکه چې د ترانزيټي لارو پراختيا هغه مهال بشپړ اقتصادي ارزښت پيدا کوي چې د هېواد د توليدي وړتياوو له ودې سره مل وي. د لارو تنوع په ځانګړي ډول د ناڅاپي بندښتونو پر مهال د وارداتي توکو د بيو، کورني توليد او کارموندنې په برخه کې د زيانونو د محدودولو په هکله هم مهم رول لوبوي.

په عين حال کې، د بديلو لارو تنوع له پاکستان سره د اقتصادي اړيکو د پرېکون په معنا نه ده. پاکستان د جغرافيايي نږدېوالي، موجودو بندري اسانتياوو او تاريخي سوداګريزو اړيکو له امله لا هم د افغانستان مهم سوداګريز شريک پاتې کېدای شي. خو د دغو اړيکو دوام بايد د متقابلو ګټو، باور، د اقتصادي حاکميت د درناوي او د وړاندوينې وړ سوداګريزو شرايطو پر بنسټ وي. د هېوادونو جغرافيايي موقعيت بايد د بل هېواد د اقتصادي انتخابونو د محدودولو وسيله نشي. د پاکستان له لوري په سياسي فشار باندې د ترانزيټي اسانتياوو بدلول ښايي په لنډمهال کې افغانستان ته اقتصادي زيان ورسوي، خو په اوږدمهال کې د بديلو مسيرونو د پراختيا لپاره انګېزه پياوړې کوي او د پاکستان د جغرافيايي امتياز انحصاري ارزښت کموي. که پاکستان غواړي په افغانستان کې خپل سوداګريز اهميت وساتي، اغېزمنه لاره يې د محدوديتونو او فشارونو پر ځای د رقابتي چوپړتياوو، سوداګريزو اسانتياوو او متقابلو اقتصادي ګټو برابرول دي.

په پايله کې، د افغانستان بديلو سوداګريزو لارو پراختيا ته بايد يوازې د پاکستان د محدوديتونو پر وړاندې د لنډمهالي غبرګون په توګه نه، بلکې د اوږدمهالي ملي او اقتصادي تګلارې په توګه وکتل شي. د افغانستان جغرافيايي موقعيت د سيمه‌ييز اتصال، اقتصادي پرمختګ او همکاريو لپاره يو مهم فرصت دی؛ خو په ريښتوني اقتصادي او ستراتيژيک ځواک باندې د دغه فرصت بدلول اغېزمن مديريت، زيربناوو، سيمه‌ييزو همکاريو او د کورني توليد پياوړتيا ته اړتيا لري. د انحصار پر ځای د متنوعو اقتصادي اړيکو رامنځته کول، نه يوازې د افغانستان د خپلواکو پريکړو کولو وړتيا پياوړې کوي، بلکې د سيمې د هېوادونو لپاره هم د همکاري او سالمو رقابتونو لپاره نوي فرصتونه برابروي. د افغانستان اقتصادي محاصره په اوږدمهال کې د هېڅ هېواد په ګټه نه دي؛ د سيمې د ثبات او ګډې سوکالي لاره د متقابل درناوي، اقتصادي همکاريو او د يو بل د مشروع ګټو له منلو څخه تيريږي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ